safar

# حقیقت او صداقت

## تل او په هر ځای کې

### د پیل ټکی

- ایا تر اوسه داسې پېښ شوي دي، چې چا تاسو ته دروغ ویلي وي؟
- کله چې تاسو د هغه دروغو ته پام شو، نو څه احساس تاسو ته پیداشو؟
- تاسو اړیکه د هغه سره کوم ځای ته ورسیده؟

### بحث او خبرې

مونږ غواړو، ووایو چې حقیقت مونږ ته مهم او ارزښتمند دی. او بیا هم ډیری وختونه موږ ځان په داسې شرایطو کې پیدا کوو، چیرې چې موږ دروغ ویلو ته لیوالتیا لرو.

- کېدای شي موږ د یو چا د احساساتو ساتلو لپاره حقیقت پټ کړو؟
- شاید هغه تصویر د خپل ځان په هکله څرنګدوو چې حقیقت نه لري؟
- شاید دروغ ووایو، ترڅو هغه تېروتنه چې پېښه شوې ده، پټه کړو؟

ځیني هغه دلیلونه چې مونږ وسوسه کوي چې دروغ ووایو، کوم دي؟

بېله شکه چې دروغ ویل اسانه لاره ده. ځیني وخت کېدای شي داسې معلوم شي چې دروغ ویل د ټولو په ګټه وي. کله چې موږ دروغ ویلو ته لېواله شو، نو ولې موږ کولی شو ربښتیا ووایو او صادقانه عمل وکړو؟

### په کلام باندې تعمق او غور

راځئ په درې دلیلونو چې ولې باید حقیقت غوره کړو، خپل نظر وړاندې کړو:

**لومړئ دلیل: یو د خدای د خصوصیاتو څخه حقیقت او ربښتیا ده** دا لاندې ایتونه ولولئ:

- یوحنا ۱: ۱۴
- یوحنا ۱۴: ۶
- یوحنا ۸: ۳۱-۳۲
- اول یوحنا ۱: ۵-۷

د دې ایتونو په له مخې ولې حقیقت مهم دی؟

ربښتیا د خدای د ذات یو د اصلي خوصوصیات څخه دی. خدای به له تاسو سره تل صادق او ربښتینی وي. هغه به تل تاسو ته حقیقت ووایي. یو د هغه دلیلونو څخه چې په خدای باید باور وکړو همدا دی. خدای مونږ ته بلنه راکوي چې د هغه په شان صادق واوسوــ هغه له مونږ نه غواړي چې په ربښتیا کې ژوند وکړو. خدای له مونږ نه غواړي سم د هغه په شان حقیقت ته ارزښ ورکړو او هغه پاس کړو.

**دوهم دلیل: شیطان د درواغجنو پلار دی** دا ایت ولولئ:

- یوحنا ۸: ۴۴

لکه څنګه چې ربښتیا او حقیقت د خدای شخصیت دی، دروغ، دوکه او چل هم د شیطان د شخصیت د ځانګړتیاوو څخه شمېرل کیږي. په پیدایښت ۳ فصل کې شیطان ادم او هوا ته فریب ورکړ او دا لامل شو چې هغوی ګناه وکړي. د هغه زماني نه تر اوسه پورې په ټولو نسلونو کې دروغ ویل کیږي، چې دا تباهي راوړي. په همدا دلیل دی، چې عیسی هغه ته د

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

دروغجنانو پلار وايي. کله چې چل او دوکه کوو، دروازه د شيطان پر مخ خلاصوو.

**دريم دليل: خدای له دروغو کرکه لري، ځکه دروغ خلکو ته تاوان رسوي** دا ايتونه ولولئ. د ګناه په اړه د خدای چلند څنګه دی؟

- د سليمان متلونه ۱۲: ۲۲
- د سليمان متلونه ۲۵: ۱۸
- کولسيان ۳: ۹-۱۰

دروغ ويجاړونکی دی. دروغ او د رښتيا ځ��ه ډېره کول اړيکې له منځه وړي. انسانان دوکه کيږي. څوک چې په دروغو کې ژوند کوي، ارام نه دی.
کله چې موږ په دروغو کې برخه اخلو، نو موږ په بدو کې برخه اخلو.

## اصلي مفکوره

**هغه دري دليلونه چې موږ په ګډه په کلام باندې بحث وکړ، هغه له ټولو نه ښه حقيقت او صداقت دی.** کله چې حقيقت غوره کوو او په صداقت کې ژوند کوو، نو زياتې ګټې موږ ته رسيږي، لکه :

- زيات د عيسی په ډول کيږو.
- خپل باور خدای ته ښکاره کوو.
  - د دې په ځای چې د کسانو يا د شرايطو نه ناوړه ګټه پورته کړو، په خدای باندې بايد باور وکړو چې هغه عمل وکړي.
- د تيارې په ځای، اوسني وضيعت ته بايد رڼا ورکړو.
- د نورو کسانو په نظر کې د باور وړ وشمېرل شو.
  - صداقت د دې سبب کيږي چې اړيکې مو له نورو سره ټينګې شي. که څه هم په دې شېبه کې امکان لري د حقيقت ويل سخت او درد لرونکي وي، خو په اوږده موده کې د دې باعث کيږي چې ريښتيني اړيکه مو له نورو سره منځ ته راشي.
- په ازادۍ کې ژوند وکړو.
  - نور اړ نه يو، هغه د دروغو واقيتونه چې مو جوړ کړي دي، وساتو. حتی نور دې ته اړتيا نه شته چې په ظاهر کې ځان ښه وښايو. په حقيقت کې ژوند کول موږ د دروغ ساتلو له ستړيا څخه خلاصوي.

## همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

د سليمان متلونه ۱۰: ۹ موږ ته رازده کوي هغه څوک چې په رښتيا او صداقت کې ګامونه اخلي، په خوندي او بې خطره لاره روان دی. خو په دې خاطر چې وکولای شو دا ډول ژوند وکړو، بايد د صداقت او رښتيا ژوند غوره او تمرين کړو.

- زيات په کومو شرايطو کې وسوسه کيږئ چې دروغ ووايئ او يا د رښتيا ويلو څخه ډډه وکړئ؟
- ولې په داسې شرايطو کې وسوسه کيږئ چې دروغ ووايئ؟ ولې پرېکړه کوئ چې د دروغو په ځای حقيقت ووايئ؟
- ايا په دې هفته کې د داسې وضيعت سره مخامخ شوي يئ چې احساس مو کړی وي خدای له تاسو څخه غواړي حقيقت ووايئ، که څه هم دا کار ډېر سخت وي؟
- په ګډه دعا وکړئ چې خدای ستاسو مينه د حقيقت سره ډېره کړي او تاسو ته جرئت درکړي چې په دې هفته کې او تل صادق اوسئ.

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

- د سليمان متلونه ۱۰: ۹ د کاغذ پر مخ وليکئ او هغه په هغه ځای کې کېږدئ، چې وکولای شئ هر سهار هغه ولولئ.
- لاندې ايتونه د خپل شخصي رازونو په وخت کې ولولئ او پام وکړئ چې ولې رښتيا او صداقت په خدای ګرانه دی:
  - زبور ۲۵: ۵
  - افسسيان۴: ۲۵
  - افسسيان ۶: ۱۴

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- په دې هفته کې هر وخت تاسو خپل ځان په داسې حال کې لېدلئ چې د درغو او حقیقت په منځ کې یو غوره کړئ. متلونه ۱۰: ۹ په یاد راوړئ او له خدایه مرسته وغواړئ، چې په زړورتیا او د مینې سره حقیقت ووایئ.
- یو بل ته تلیفون وکړئ او هغه تجربه چې د حقیقت په ویلو کې یې لرئ یو له بله سره شریکه کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved